مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲/۰۹/۲۲

# زما له مرګه دوه لسيزې وروسته

زما له مرګه دوه لسيزې وروسته
چې ستا واده شوی وي
په کومې تورې بارانې ورځې کې
خپلې پېغلوټې لور ته
زموږ د عشق کيسه په بل نوم کوې
وايه نو زړه به دې اوبه پرې ځېني؟
زما له مرګه دوه لسيزې وروسته
که چيرته ناڅاپه يو ځا ياد کړم
تا تيندک وخوړه، را ونړېدې
خاموشي واخيستې او سترګو دې
څو ملغلرې اوښکې وبايللې
وايه نو شال به دې کيسه پټه کړي؟
زما له مرګه دوه لسيزې وروسته
چې ته زړه تنګې شې له ټولو خلکو
په خپل وجود کې د عذاب ميلمه شې
خاوند دې ښه ته ځواب بد وايي
او دا نړۍ دې هيڅ قبوله نه کړي
وايه نو څوک لرې چې غاړه درکړي؟
زما له مرګه دوه لسيزې وروسته
که ناګهانه خپل ديار ته راشې
د ګودر لار کې زما کنډر ووينې
او زر درياده کړې چې دا محل خو
له اوسيدونکي سره ما تباه کړ
وايه نو شرم به د کلي له کوڅو نه درځې؟
زما له مرګه دوه لسيزې وروسته
که خدای زما تر قبره راوستلې
نو زه به ومنم چې زما مينه
آمر وه خدايه آمرا!
مګر په شناخته مې دا سوال وي:
وايه نو ته به خپلې مينې ته څه نوم ورکوې؟



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ